اونيزه مجله :361
WEEKLY BOOKLET:361

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د بیانونو لیکلې ګلدسته پهٔ نوم

# د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ اولاد

PASHTO

- د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي شهزادګي
- تصویرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
- د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه مشر ځمسے
- د سیده فاطمةُ الزهرا رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د ټولو نه کشره شهزادګۍ




شیخ طریقت امیر اهل سنت د دعوت اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادری رضوی دَامَتْ بَرَكَاتُہُمُ الْعَالِیَہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ اولاد [1]

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ اولاد " ولولي یا واوري، د هغهٔ د قیامت پهٔ ورځ د ساداتِ کرامو د نیکه بابا جان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفاعت نصیب کړې او پهٔ جنَّتُ الفردوس کښې ورته د خپل خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ عطا کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته نصیحت

نبيِ کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مولیٰ علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ارشاد ووفرمائیلو: يَا عَلِيُّ! اِحْفَظْ عَنِّيْ خَصْلَتَيْنِ أَتَانِيْ بِهِمَا جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَكْثِرِ الصَّلَاةَ عَلَيَّ بِالسَّحَرِ، وَالْاِسْتِغْفَارَ بِالْمَغْرِبِ- ترجمه: اے علي! زما نه دوه عادتونه یاد کړه کوم چې جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ما ته راوړل- ﴿1﴾ د سحر پهٔ وخت پهٔ ما باندې زیات دُرُودِ پاک لوله او ﴿1﴾ د ماښام پهٔ وخت اِستغفار کوه-

(القربة الی رب العٰلمین، ص 90)

---

[1]... امیرِ اهلِسنّت دامت بَرَکَاتُهمُ العالیه به د محرم شریف کال 1444 هجرى د کیدونکو مَدَني مذاکرو نه وړاندې روزانه بیانونه فرمائیل، پهٔ هغې کښې د مختصرو دریو بیانونو مجموعه پهٔ نوم د "خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ اولاد"-

نام حضرت پہ لاکھ بار درود بےعدد اور بےشمار درود
جو محبِّ نبی ہے اے کافی چاہئے اُس کو بار بار درود

(دیوانِ کافی، ص 23)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې شهزادګۍ

**اے د صحابۂ کرامو او اهلِ بیتو عاشقانو!** دلته عام طور د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یوې شهزادګۍ، سیده فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهَا ذِکرِ خیر کیږي، بالکل پکار دے څکه چې د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیره خوښه شهزادګۍ ده، خو درې نورې شهزادګۍ هم دي کومې چې د اهلِ بیتو نه دي او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سَکه لوڼه دي، د هغوئي مبارک نومونه دا دي: حضرت بي بي زینب، حضرت بي بي رُقَیَّه او حضرت بي بي اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُنَّ- الله دې کړي چې د دې ټولو شهزادګو نومونه مونږ ته پهٔ یادو یاد شي، راځئ چې اوس د دې څلورو واړو شهزادګو د مختصر شان تعارف وړاندې کولو کوشش وکړو-

## وړومبۍ شهزادګۍ

زما د خوږ آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه مشره شهزادګۍ حضرت بي بي زینب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهَا ده (کومه بي بي زینب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهَا چې پهٔ

کربلا کښې وه هغهٔ د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خور بي بي وه او دا د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزادګۍ ده)- حضرت بي بي زینب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د مکے مکرمې نه مدینے منورې ته پهٔ هجرت کولو کښې د سخت ازمیښت سره مخ شوه، د کوم له وجهې چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې پهٔ باره کښې ارشاد ووفرمائیلو: هِیَ اَفْضَلُ بَنَاتِیْ اُصِیْبَتْ فِیَّ یعنې دا زما پهٔ لوڼو کښې (پهٔ دې لحاظ سره) زیاته د فضیلت والا ده چې زما ارخ ته پهٔ هجرت کولو کښې د دومره مصیبت سره مخ شوه- (شرح الزرقانی علی المواہب اللدنیہ، 318/4 - مستدرک، 565/2، حدیث: 2866)

حضرت بي بي زینب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا چې کله وفات شوه نو د الله پاک خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې د کفن د پاره خپل تهبند شریف عطا کړو او پهٔ خپلو مبارکو لاسونو باندې یې هغهٔ قبر ته کوزه کړله- ( شرح الزرقانی علی المواہب اللدنیہ، 318/4- بخاری، 425/1 ، حدیث: 1253) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغې باندې رَحمت وي او د هغې پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## دویمه شهزادګۍ

د نُبُوَّت د اعلان نه 7 کاله مخکښې چې کله د الله پاک د خوږ آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عمر مبارک 33 کاله وو، هُغه وخت بي بي رُقیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا دُنیا ته تشریف راوړلو- هغهٔ د مسلمانانو د دریم خلیفه

حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ کور وداني مبارکه ده- (مواہب اللدنیہ، 392/1 ، 393 ملتقطاً)

د غزوۀ بَدر پۀ موقع باندې بي بي رُقَيَّه رَضِیَ اللهُ عَـنْها سخته بیماره وه چې له وجهې يـې د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ ته د هغې د خیال ساتلو د پاره د هغې سره د ایساریدو ووفرمائیل نو حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ ایسار شو- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مالک الاَحکام هم دے لهٰذا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ ته عزوۀ بدر کښې د برخې اخستونکو همره د ثواب زیرے واورولو او مالِ غنيمت يـې ورته هم عطا کړو، چې کله د مسلمانانو د فتح خبر مدينے منورې ته راغلو نو پۀ هٰغه ورځ حضرت بي بي رُقيه رَضِیَ اللهُ عَـنْها وفات شوه-

د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږه شهزادګۍ حضرت رُقَيَّه (رَضِیَ اللهُ عَـنْها) چې کله وفات شوه نو حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ ډیر وژړل، حُضورِ اَکرَم نُورِ مُجَسَّم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ترينه پوښتنه وکړه: عثمانه ولې ژاړې؟ عرض يـې وکړو: يا رسولَ الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زۀ د حضور د ځومتوب نه محرومه شوم، دا يـې چې واوريدل نو حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: ما ته جبريلِ امين عرض کړے دے چې د الله پاک حکم دے چې زۀ د خپلې دويمې لور "اُمِّ کلثوم" نکاح ستا سره وکړم پۀ دې شرط چې هم هٰغه مهر وي کوم چې د رُقَيَّه وو او تۀ

د هغې سره هُغه سلوک وکړې کوم چې دې د رُقَيَّه سره وکړو، نو د حضرت اُمّ کلثوم (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡها) نکاح د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره وکړے شوه- پۀ دُنیا کښې خوک هم داسې نشته د چا پۀ نکاح کښې چې د نبي دوه لوڼه راغلې وي- دا د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خاصیت وو او هم پۀ دې وجه هغوئي ته د ذُو النُّورین (یعنې د دوو نُورونو والا) لقب میلاؤ شو- (مرقاة ، 10 / 445 ، تحت الحدیث : 6080 ، مرأة المناجیح، 405/8)

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه لیکي:

نور کی سرکار سے پایا دَو شالا نور کا ہو مبارک تم کو ذُوالنُّورَین جَوڑا نور کا

(حدائقِ بخشش، ص 246)

یعني اے د دوو نُورونو والا خوږه عثمانِ غني! ستاسو دې ډیر ډیر مبارک شي چې تاسو د نُور والا آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بارګاه نه د نُور د دوو خادرو (یعني د رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دوو لوڼو پۀ خپله نکاح کښې د) اخستو شرف حاصل کړے دے-

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دریمه شهزادګۍ

زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفےٰ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دریمه شهزادګۍ حضرت بي بي اُمّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡها ده- حضرت بي بي اُمّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡها د کُنیت سره مشهوره ده- حضرت بي بي اُمّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡها پۀ شعبان کال 9

هجرى کښې وفات شوله او د الله پاک خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې جنازه وکړله- (شرح الزرقانی علی المواہب اللدنیہ، 325/4، 327 ملتقطاً) او د هغې مزار شريف په جنتُ البقيع کښې جوړ کړے شو-

## خلورمه شهزادګۍ

د حضورِ پاک، سرورِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه کشره خو د ټولو نه خوږه شهزادګۍ حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها ده- د هغې نوم مبارک "فاطمه" او "زَهرا" او "بَتُول" د هغې القابات دي- په حديثِ پاک کښې دي: (زما د لور) نوم فاطمه دې د پاره کيښودلے شوے دے ځکه چې الله پاک دا او د دې سره مَحَبَّت کوونکي د دوزخ نه ازاد کړي دي- (سیرت مصطفیٰ، ص 697- کنز العمال، جز: 12، 50/6، حدیث:34222)

د سيده حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها د بدن مبارک نه به د جنَّت خوشبوئي راتلله کومه چې به حُضُور نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بوئي کوله- ځکه د هغې لقب "زَهرا" شو- (مرآۃ المناجیح، 453/8 - المبسوط للسرخسی، 155/10)

بتُول و فاطمہ، زَہرا لقب اِس واسطے پایا کہ دُنیا میں رہیں اور دیں پتہ جنّت کی نگہت کا

(دیوانِ سالک، ص 90)

د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: "فَاطِمَةُ بِضْعَةٌ مِّنِّیْ فَمَنْ اَغْضَبَهَا اَغْضَبَنِیْ يعني فاطمه (رَضِیَ اللهُ عَنْها) زما ټوټه ده چا چې دا ناراضه کړله

هغهٔ زهٔ ناراضه کړم-“ پهٔ يو روايت کښې دي، ”يُرِيْبُنِيْ مَا اَرَابَهَا وَيُؤْذِيْنِيْ مَا اٰذَاهَا

يعنې کوم څيز چې دا پريشانه کوي هغهٔ ما پريشانه کوي او څوک چې دې له تکليف ورکوي هغهٔ ما له تکليف راکوي-“

(مسلم، ص 1021، حديث: 6307)

سیِّدہ، زاہِرہ، طیِّبہ، طاہِرہ جانِ احمد کی راحت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص 309)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تصويرِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت بي بي عائشه، صِدِّيقه طيِّبه طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: ما پهٔ کړه وړه، شکل او صورت او خبرو اترو کښې د بي بي فاطمه نه زيات څوک د حُضُورِ اَکرَم (صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم) مُشابِه يعنې پهٔ شکل او صورت کښې هغوئي ته تلي اونه ليدل او چې کله به حضرت فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د خوږ آقا صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پهٔ بارګاه کښې حاضريدله نو حُضُور صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به د هغې د هر کلي د پاره ودريدلو، د هغې لاسونه به يې نيول او ښکلول او پهٔ خپل ځائے باندې به يې کښينوله او چې کله به حُضُور پر نُور صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د بي بي فاطمه خوا له تشريف وړلو نو هغهٔ به (هم) د حُضور اکرم صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د تعظيم د پاره ودريدله او د خوږ آقا، مَکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ علیہ واٰلہٖ وسلَّم مبارک لاسونه به يې نيول او ښکلول او پهٔ خپل

ځائے باندې به يې کېښينولو- (ابو داؤد، 454/4، حديث: 5217) د الله رَبُّ العزّت دې د دې ځلورو واړو شهزادګو پۀ وسيله زمونږه بے حسابه بخښنه ووفرمائي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

رسولُ اللہ کی جیتی جاگتی تصویر کو دیکھا　　کیا نظارہ جن آنکھوں نے تفسیرِ نبُوّت کا

(ديوانِ سالِک، ص 90)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواږه نمسي او نمسۍ

اے د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو عاشقانو! د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر نمسي او نمسۍ وې خو د ټولو نه زيات مشهور حَسَنين کريمين (يعني اِمامِ حَسَن او اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهما) دي- د حضرت سفيان بن عينيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې اِرشاد "عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ يعنې د نيکانو د ذِکر پۀ وخت رحمت نازليږي"(حلية الاولياء، 335/7، رقم:10750) مطابق د رَبِّ کريم د رحمتونو حاصلولو او د خپلو معلوماتو د پاره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسو ذِکر ولولئ-

## د نبيِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه مشر نمسے

زمونږ د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه د مشرې شهزادګۍ حضرت بي بي زينب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها يوه لور او يو ځوي وو- د حضور نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې نمسي نوم "علي" وو- پۀ يو روايت

کښې دي چې دا د خپلې مور بي بي پهٔ ژوند مبارک کښې بلاغيدو ته نزدې وفات شوے وو، خو د اِبنِ عساکِر بيان دے چې نسب نامو بيانوونکو بعضو علمائے کرامو دا ذِکر کړے دے چې دا پهٔ جنګِ يَرمُوک کښې شهيد شوے وو- (طبقات الکبرىٰ، 25/8، شرح الزرقانی، 321/4، سيرتِ مصطفیٰ، ص 693) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه مشره نمسۍ

د حضرت بي بي زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د لور نوم "اُمامه" وو، د حضورِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې مشرې نمسۍ حضرت بي بي اُمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره ډير زيات مَحَبَّت وو- هغوئې به دا پهٔ خپلو اوګو مبارکو باندې کښينوله او مسجدِ نبوي ته به يې تشريف وړلو- روايت کښې دي چې د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې يو ځل د حبشه شريف بادشاه نَجاشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هَديې (يعني تحفې) پهٔ طور يو چغه راوليږله د کومې سره چې د سرو زرو يوه ګوتمه هم وه، د هغې د هغې غمے حَبشي وو- د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ګوتمه حضرت بي بي اُمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته عطا کړله- ( سيرت مصطفیٰ، ص 693- ابن ماجه، 177، حديث: 3644)

# د سرو زرو ښکلے اَميل

دغه شان يو ځل چا حُضورِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ډير ښکلے د سرو زرو اَميل په تحفه کښې ورکړو د کوم په ښکلا ليدلو چې ټولې اَزواجِ مطهرات[1] رَضِىَ اللهُ عَنْهنَّ حيراني پاتې شوې- حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلو پاکو بيبيانو ته ووفرمائيل چې زهٔ به دا اَميل هغې له ورکووم څوک چې زما پهٔ کور والؤ کښې زما ډير خوښ دي- د ټولو اَزواجِ مطهراتو رَضِىَ اللهُ عَنْهنَّ دا خيال وو چې يقيناً به دا اَميل اوس حضرت بي بي عائشه رَضِىَ اللهُ عَنْها ته عطا کوي خو حضور اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت بي بي اُمامه رَضِىَ اللهُ عَنْها خوا ته راوبلله او خپلې خوږې نمسۍ ته يې پهٔ خپلو مبارکو لاسونو باندې اَميل پهٔ غاړه کړو- (شرح الزرقانى على المواہب اللدنيہ، 321/4- مسند امام احمد، 399/9، حديث: 24758)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغې باندې رَحمت وي او د هغې پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... "اَزواج" د زوجه لفظ جمع ده يعني کور وداني- " مطهرات" د مطهره لفظ جمع ده يعني پاک، معنیٰ دا شوه چې د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکې بيبياني، اَزواجِ مطهرات ته "اُمَّهاتُ المؤمِنِين" هم وئيلے شي، "اُمهات" د اُم لفظ جمع ده د کوم معنیٰ چې ده " مور" لهٰذا د اُمهاتُ المؤمِنين معنیٰ شوه "د مؤمِنانو مئيندې-"

## د سیده فاطمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها وَصیتونه

حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها د خپل وفات نه مخکښې مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته دوه وصيتونه وکړل: ﴿1﴾ زما د وفات نه پس زما د خورزې اُمامه سره نِکاح وکړه- (معرفة الصحابة الابی نعیم، 192/5) ﴿2﴾ زهٔ چې کله د دُنيا نه رُخصت شم نو ما د شپې دَفن کړئ د پاره د دې چې زما پهٔ جنازه د نامَحرَمه نظر نهٔ پريوځي- (فتاویٰ رضویه، 307/9- تحفه اثنا عشریه، ص 281)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي تِولو باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سُبْحٰنَ الله! د دواړو جهانونو د سردار، مکي مَدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزادګۍ حضرت سیِّده فاطـمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها د پردے هم څومره ښکلې خبره ده! هغوئي به څومره پرده فرمائيله، چا څهٔ ډير ښه وئيلي دي:

چُو زَہرا باش اَز مخلوق رُو پوش     کہ دَر آغوش شبّیرے بَہ بِنی

(يعني د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها پهٔ شان پرهيزګاره او پرده داره جوړ شئ د پاره د دې چې پهٔ خپله غيږه کښې د حضرت سيّدُنا شبّيرِ نامدار اِمامِ حُسَين، د کربلا د شهيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ شان اولاد ووينئ-)

يعنې زنانؤ ته وئيلے شوي دي چې پرده کوئ -- پرهيزګارې جوړې شئ -- پهٔ کوڅو کښې هسې مهٔ ګرځئ -- د شاپنګ سنټرو ښکلا مهٔ جوړيږئ --

ودونو له د ځان ښه سينګارولو سره مۀ ځئ او ننداره مۀ جوړيږئ -- بلکې تقویٰ اختيار کړئ -- پرده کوئ د پاره د دې چې تاسو پۀ غيرته کښې د اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فيض ووينئ او نيک اولاد بياموموئ -- اوس چې د زنانؤ څنګه حال دے اَستَغفِرُ الله -- ډير بد حالت دے -- بيا چې اولاد يــې هم مخ ته وردانګي نو هغۀ هم خلق ويني، الله پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم وکړي -- الله پاک دې کړي چې زمونږه معاشره صحيح شي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسے حضرت عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

د حَسَنينِ کريمين رَضِیَ اللهُ عَنْهما د نيکه بابا جان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دويمې شهزادګۍ حضرت بي بي رُقَيَّه رَضِیَ اللهُ عَنْها نه د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمانِ غني، ذُو النُورين، جامعُ القرآن رَضِیَ اللهُ عَنْهُ يو شهزاده هم پيدا شوے وو د چا نوم چې "عبدُ الله" وو- دا د خپلې مور بي بي نه پس پۀ 4 هجرى د شپږو کالو عمر کښې وفات شو- (شرح الزرقانى على المواہب اللدنيہ، 323/4) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دريمې شهزادګۍ اُمّ کلثوم رَضِیَ اللہُ عَنْہا د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره نکاح وشوه خو د هغې نه يې اولاد نه وو- (شرح الزرقانی علی المواهب اللدنيه، 327/4)

د کومو اِسلامي خوئيندو چې اولاد نشته په دې کښې د هغوئي د پاره هم سبق دے چې که اولاد يې نه وي نو بي بي اُمّ کلثوم رَضِیَ اللہُ عَنْہا دې راياده کړي چې اولاد خو د هغې هم نه وو خو هغې يقيناً چې صبر کړے وو، د هغې کورنۍ خو د صابرانو کورنۍ ده، د هغوئي خو داسې صبر وو چې په ټول کائنات کښې د هغوئي صبر تقسيم کړے شوے دے، الله پاک دې مونږ ته د هغوئي د صبر په وسيله د صبر دولت راعطا کړي د پاره د دې چې ګيلې معنې ټولې ختمې شي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللہُ عَنْہا پاک اولاد

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے، خاتمُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه د کشرې او خوږې شهزادګۍ حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللہُ عَنْہا درې شهزادګان: ﴿1﴾ حضرت سيِّدُنا اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ، ﴿2﴾ حضرتِ اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او ﴿3﴾ حضرتِ مُحَسِّن رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او درې شهزادګۍ ﴿1﴾ حضرتِ سيِّدَه بي بي زينب رَضِیَ اللہُ عَنْہا، ﴿2﴾ حضرتِ بي بي رُقيّه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او ﴿3﴾ حضرت بي بي اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللہُ عَنْہا وې- (شانِ خاتونِ جنت، ص 256 تا 263 ملخصاً، اجمال ترجمه اکمال، ص 72)

حضرت سيّدُنا مُحَسِّن رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ او شهزادګۍ حضرت بي بي رُقيَّه رَضِیَ اللهُ عَـنْها خو په ماشومتوب کښې وفات شوي وو ځکه د تاريخ او سيرت په کتابونو کښې د هغوئي ذِکر ډير کم ميلاويږي-

د الله پاک د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نسل مبارک چې د کومو صاحبانو مبارکو نه وړاندې روان شو د هغه حضراتِ حَسَنينِ کريمين رَضِیَ اللهُ عَـنْهما يو څو فضائل ولولئ:

## دوه جنَّتي ګلونه

﴿1﴾ د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: حَسَن او حُسَين (رَضِیَ اللهُ عَـنْهما) په دُنيا کښې زما دوه ګلونه دي- (بخاری، 547/2، حديث: 3753)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان مطلب دا دے چې حضرت حَسَن او حُسَين (رَضِیَ اللهُ عَـنْهما) په دُنيا کښې د جنَّت ګلونه دي کوم چې ماته راعطا شول، د دوئي د بدن نه د جنَّت خوشبوئي راځي ځکه به حضورِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دوئي بوئي کول او حضرت علي (رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ) ته به يې فرمائيل: "اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اَبَا رَيْحَانَيْنِ" يعني اے د دوو ګلونو والده! په تا باندې دې سلام وي- (مرأة المناجيح، 462/8)

د يو بَل حديثِ پاک لاندې مفتي صاحب ليکي: لکه څنګه چې د ماليار په تول باغ کښې ګُل خوښ وي هم داسې په دُنيا او د دُنيا په ټولو څيزونو کښې زما حضراتِ حَسَنين کريمين (رَضِیَ اللهُ عَـنْهما) خوښ دي- اولاد ته هم ګلونه وئيلے شي، په ټولو نمسو کښې د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا دواړه نمسي ډير خوښ وو- (مرأة المناجيح، 475/8)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض کوي:

اُن دو کا صَدقہ جن کو کہا میرے پھول ہیں　　　کیجے رَضا کو حشر میں خَنداں مثالِ گُل

(حدائقِ بخشش، ص 77)

**شرحِ کلامِ رضا:** اے زما آقا! خپلو کومو دوو شهزادګانو (حَسَن او حُسَين رَضِیَ اللهُ عَـنْهما) ته چې تاسو ګلونه وئيلي دي، د هغوئي په وسيله د قيامت په ورځ احمد رضا ته د ټولو غمونو نه نجات ورکړئ او د ګل په شان مُسکا ورته عطا کړئ- کاش چې دا عرض زمونږ په حق کښې هم قبول شي-

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

﴿2﴾ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: دا زما دواړه ځامن زما د لور ځامن دي، اِلٰهی زهٔ د دوئي سره مَحَبَّت کووم تهٔ هم د دوئي سره مَحَبَّت وکړې او خوک چې د دوئي سره مَحَبَّت کوي د هغهٔ سره هم مَحَبَّت وکړې-
(ترمذی، 427/5، حديث: 3794)

يا الله پاکه! مونږه ستا د محبوب د دې دواړو نمسو "حَسَن او حُسَين [رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما]" سره مَحَبَّت کوو تهٔ هم زمونږ سره مَحَبَّت وکړې- او مونږ د دوئي پهٔ مَحَبَّت کښې رښتوني کړې-

د دې حديثِ پاک لاندې پهٔ "مِراٰة المناجيح" کښې دي: يعنې دا حکماً زما ځامن دي او پهٔ حقيقت کښې زما د لور ځامن دي، زما د دوئي سره د ځامنو پهٔ شان مَحَبَّت دے- ياد ساتئ چې د حضرت (بي بي) فاطمه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْها دا خاصيت دے چې د حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا (رَضِیَ اللّٰهُ عَنْها) اولاد د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي (صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نسل دے د دوئي نه د حضورِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم (صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نسل وړاندې روان شو، لکه چې حَسَن او حُسَين (رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما) د حضور نبي کريم (صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نسل هم دے او د نَسل اَصل هم، ګنې نسب د پلار نه وي نهٔ چې د مور نه، آؤ شَرف (يعنې فضيلت او فخر) د مور سره هم کيږي- آل لفظ د دواړو د پاره وئيلے شي د ځوي اولاد ته هم او د لور اولاد ته هم وئيلے شي- (مراٰة المناجيح، 476/8)

ہے رُتبہ اِس لئے کونین میں عصمت کا عفت کا    شَرَف حاصِل ہے اِن کو دامنِ زَہرہ سے نسبت کا
اِنہی کے ماہ پارے دو جہاں کے لاج والے ہیں    یہ ہی ہیں مجمعِ بَحرَین سَر چشمہ ہِدایت کا
(ديوانِ سالک، ص 89)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک پهٔ دې حصه "اِلٰهی زهٔ د دې دواړو سره مَحَبَّت کوم تهٔ هم د دوئي سره مَحَبَّت وکړې او

ځوک چې د دوئي سره مَحَبَّت کوي د هغوئي سره هم مَحَبَّت وکړې" په شرح کښې فرمائي: د دې دُعا مقصود (هلته موجود) حضرت سيِّدُنا اُسامه (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) ته اورول او وئيل وو چې اُسامه! زما د حَسَن او حُسَين [رَضِیَ اللہُ عَنْہما]سره مَحَبَّت وکړه چې د دوئي مَحَبَّت د الله پاک محبوبيت (يعني د خوښيدو) ذريعه ده- ياد ساتئ چې د زړهٔ مَحَبَّت د بجلئ د کرنټ په شان خوريدونکے څيز دے د چا سره چې مَحَبَّت وي د هغوئي د اولاد، کور والؤ، نوکرانو تر دې پورې چې د هغوئي د ښار سره هم مَحَبَّت شي- (مرأة المناجيح، 476/8)

سیّدَہ زاہرہ طَیِّبَہ طاہِرہ جانِ احمد کی راحت پہ لاکھوں سلام
حَسَن مجتبیٰ سَیِّدُ الْاَسخیا راکِبِ دُوشِ عزت پہ لاکھوں سلام
اُس شہیدِ بلا شاہِ گلگوں قبا بیکسِ دَشتِ غُربت پہ لاکھوں سلام
(حدائق بخشش، ص 310، 309)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

﴿3﴾ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: اَلْحَسَن وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ اَهْلِ الْجَنَّةِ يعني حَسَن او حُسَين (رَضِیَ اللہُ عَنْہما) د جنَّتي ځلمو سرداران دي- (ترمذی، 426/5، حديث: 3793)

## د حَسَنين کريمين رَضِیَ اللہُ عَنْہما نازونه ورکړل

صحابيِ رسول، حضرت سيِّدُنا ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بيانوي چې يوه ورځ مونږ په خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې د ماسخوتن جَمعه کوله، رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله سجدے له لاړلو نو اِمامِ حَسَن او اِمامِ حُسَين

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما د هغوئي په ملا مباركه باندې كښيناستل- حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د سجدے نه سر راپورته كړو نو دا دواړه يې په نرمۍ سره ونيول او په زمكه باندې يې كښينول، بيا چې كله سجدے له لاړلو نو دې دواړو شهزاګانو بيا هم هغسې وكړل تر دې پورې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نـمونځ پوره كړو، بيا يې دا دواړه په خپلو مقدسو ورانانو باندې كښينول-

(مسند امام احمد ، 592/3، حديث: 10664)

عطّارؔ کو بُلا کے مدینے میں دو بقیع
"دو پھولوں" کے طفیل ہوں پُورے سُوال دو

**شرحِ کلامِ عطار:** دلته دوه سوالونه ذِكر شوي دي چې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عطار مدينے منورې ته وغواړئ او چې اوئې غواړئ نو په جنتُّ البقيع كښې ورته دفن كيدل عطا كړئ نو داسې "دو پھولوں" کے طفیل ہوں پورے سوال دو، د دې دواړو ګلونو په وسيله زما دواړه سوالونه پوره كړئ، مدينے ته مې وغواړئ او هلته مې چې وغواړئ نو د خپل ځان سره مې په بقيع كښې هم وساتئ-

﴿4﴾ په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كښې عرض وكړے شو چې په اهلِ بيتو كښې ستاسو زيات څوك خوښ دي؟ اوئې فرمائيل: حَسَن او حُسَين او حُضورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به (حضرت بي بي) فاطمه (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا) ته فرمائيل چې زما خوا له زما دواړه بچي راوبله بيا به يې هغوئي بوئي كول او د سينې سره به يې لګول- (ترمذی، 428/5، حديث: 3793)

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو عاشقانو!** د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به دوئي ولې نه بوئي کول چې دا دواړه د حضور نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ګلونه وو، ګلونه هم بوئي کولے شي، د هغوئي د سينې سره لګول د ډير مَحَبَّت او مينې د پاره وو- د دې نه معلومه شوه چې واړه ماشومان بوئي کول، د هغوئي سره مَحَبَّت کول، هغوئي د سينې سره لګول د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- (مرأة المناجيح، 478/8)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د قرآنِ کريم نه پس د ټولو نه زيات د اعتماد قابل د حديثونو مبارکو کتابونه "صحاح سِتّه" يعنې شپږو صحيح کتابونو ته وئيلے شي پهٔ کومو کښې چې يو کتاب "ترمذي شريف" هم دے پهٔ دې کښې دي چې د وَليانو شهنشاه حضرت مولیٰ علي مُشکل کُشا (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) فرمائي: د حَسَن (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) شکل مبارک د سَر نه تر ښپو پورې د حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مُشَابِه (يعنې هغوئي ته تلے) وو او د حُسَين (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) د سينې نه تر د ښپو د نوکانو پورې [هغوئي ته تلي وو]- (ترمذی، 430/5، حديث: 3804)

اِمامِ عشقِ و مَحَبَّت، عظيم عاشقِ صحابهٔ او اهلِ بيت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ دې باره کښې ډيره ښکلې رُباعي ليکلې ده، هغوئي فرمائي:

مَعْدوم نہ تھا سایۂ شاہِ ثقلین　　اس نور کی جلوہ گہ تھی ذاتِ حَسَنَین
تمثیل نے اس سایہ کے دو حصّے کیے　　آدھے سے حَسَن بنے ہیں آدھے سے حُسَین

(حدائقِ بخشش، ص 444)

**د شعر وضاحت:** هسې خو به د مدينے د سرکار، د دواړو جهانونو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک سورے د نمر او سپوږمۍ په رڼا کښې په زمکه باندې نه پريوتو، خو کله چې د هغوئي د فيضان سورے په حَسَنين کريمين رَضِيَ اللهُ عَنْهما باندې پريوتو نو د سَر اَنور نه تر سينې مبارکې پورې اِمامِ حَسَن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د هلته نه تر ښپو مبارکو پورې اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشابه [يعنې په شکل او صورت کښې د هغوئي په شان] شول۔

په قصيدۀ نور کښې اِمامِ اهلِسُنَّت ليکي:

ایک سینہ تک مُشابہ اک وہاں سے پاؤں تک
حُسنِ سبطین ان کے جاموں میں ہے نِیْما نور کا
صاف شکلِ پاک ہے دونوں کے ملنے سے عِیاں
خطِ تَوَام میں لکھا ہے یہ دو[2] وَرقہ نور کا

(حدائق بخشش، ص 249)

**شرحِ کلامِ رضا:** حضرت سيِّدُنا اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سر نه واخله تر ښپو پورې او د کربلا شهيد حضرت سيِّدُنا اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سينې نه واخله تر ښپو پورې د خپل نيکه بابا جان رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مشابه (يعنې په شکل او صورت کښې هغوئي ته تلې) وو۔ لکه څنګه چې د خَطِ تَو اَم (1) د دواړو ټوټو ميلاوهلو سره د خط مضمون مخې ته

---

[1]... خطِ تَو اَم: هغه خط ته وئيلے شي په کوم کښې چې يو کاغذ دوه ټوټې کړے شي او د خط مضمون په دې دواړو ټوټو کښې داسې تقسيم کړے شي چې د دواړو د ميلاوهلو نه بغير په مضمون باندې څوک نشي پوهه کيدے۔ (فنِ شاعری اور حسان الهند، ص 178 مفهوماً)

راځي هم دغه شان به د حَسَنين کريمين رَضِیَ اللهُ عَـنْهما يو ځائے د زيارت کولو سره د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوراني صورت پهٔ نظر راتللو-

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه واقعي ده چې اعلیٰ حضرت وو چې قلم به يې راخستو نو لفظونو دريابونه به يې روانول داسې الفاظ به يې راوړل چې شايد د لغت دې الفاظو به اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته منتونه کول، لاسونه به يې ورته جوړه کول چې چرته مونږ له هم پهٔ خپلو شعرونو کښې ځائے راکړئ کنه، ستاسو پرې ځۀ ځې خو پهٔ مونږ باندې به اختر شي او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت خوانان به مونږه پهٔ خپلو ژبو باندې ادا کوي-

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ياد ساتئ چې حضرت (بي بي) فاطـمةُ الـزَهرا (رَضِیَ اللهُ عَـنْها) د سر نه واخله تر ښپو مبارکو پورې بالکل د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مشابه (يعني پهٔ شکل او صورت کښې هغوئي ته تلې) وه او د هغې پهٔ دواړو ځامنو باندې دا مشابهت تقسيم کړے شوے وو- (مرأۃ المناجيح، 480/8)

رسولُ اللہ کی جیتی جاگتی تصویر کو دیکھا      کِیا نظارہ جن آنکھوں نے تفسیرِ نبُوّت کا

(ديوانِ سالک، ص 90)

## د ښو مشابهت

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو عاشقانو!** د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره قُدرتي مشابهت خو بے شکه د الله پاک ډير لوئي

نعمت دے، څوک چې خپل يو عمل د حضور اکرم، نُورِ مُجسَّم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مشابه [يعني د هغوئي په شان] کړي نو هغهٔ بخښلے کيږي نو څوک چې الله پاک د خپل محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مشابه کړي يعني د هغوئي په شان يې کړي د هغوئي د محبوبيت حالت به څهٔ وي- (مرآة المناجيح، 480/8)

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

﴿6﴾ خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: د حَسَن او حُسَين (رَضِيَ اللهُ عَنْهما) سره چې چا مَحَبَّت وکړو هغوئي زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چې د هغوئي سره دښمني وکړه هغوئي زما سره دښمني وکړه- (مستدرک، 156/4، حديث: 4830)

يا الله پاکه مونږ د حَسَنين کريمين رَضِيَ اللهُ عَنْهما سره، د هغوئي د مور بي بي حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِيَ اللهُ عَنْها سره او د هغوئي د بابا جان حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره، او د ټولو صحابهٔ کرامو او اهلِ بيت اطهار رَضِيَ اللهُ عَنْهُم سره مَحَبَّت کوو، يا الله پاکه! مونږ د هغوئي د خوږ آقا مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره او د دې ټولو پيدا کوونکيه رَبِّ کريمه ستا سره هم مَحَبَّت کوو-

## د حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِيَ اللهُ عَنْها د ټولو نه مشره شهزادګۍ

د حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِيَ اللهُ عَنْها د مشرې لور حضرت سيِّدَه بي بي زينب رَضِيَ اللهُ عَنْها کُنيت "اُمُّ الحَسَن" وو او د کربلا د واقعې نه پس د دې کُنيت "اُمُّ المصائب" مشهور شو- (شانِ خاتونِ جنّت، ص 261) دې ډير مصيبتونه برداشت کړل، ډير صبر يې وکړو او د مشکلاتو يې په نره مقابله وکړه، دا دومره صبرناکه وه چې د دې خپلو وړو وړو شهزادګانو

محمد او عَون رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهما هم د کربلا پهٔ میدان کښې توري راویستي وې او د یزیدیانو د مقابلې د پاره راوتلي وو، آخر یې د شهادت مرتبه حاصله کړله، پهٔ کربلا کښې د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ورور، وریرونه، خوریونه او ځامن هم د الله پاک پهٔ لار کښې قربان شول-

حضرت سیِّدُنا عليٌّ المُرتضیٰ، شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خپل زړهٔ د ټوټې حضرت بي بي زینب رَضِیَ اللهُ عَنْها نکاح د حضرت سیِّدُنا جعفر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ځوي حضرت سیِّدُنا عبدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره وکړله- (اسد الغابہ، 146/7)

د حضرت بي بي زینب رَضِیَ اللهُ عَنْها پهٔ مبارکې وسیلې سره پهٔ "وسائلِ بخشش" کښې داسې عرض شوے دے:

بَہرِ زَینب بے حیائی کا حضور
خاتِمہ ہو خاتِمہ فریاد ہے

(وسائلِ بخشش، ص 587)

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها د ټولو نه کشره شهزادګۍ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزادګۍ حضرت بي بي فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها د ټولو نه کشره لور حضرت بي بي اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللهُ عَنْها د خپلې مشرې خور حضرت بي بي زینب رَضِیَ اللهُ عَنْها مُشابِه (یعني پهٔ شکل او صورت کښې هغې ته تلې) وه- د مسلمانانو دویم خلیفه، حضرت سیِّدُنا عُمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضرت بي بي اُمِّ کلثوم رَضِیَ

اللهُ عَنْها سره نکاح وکړله- هغوئي مولا علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته د نکاح پيغام وليږلو او اوئې وئيل: "اے علي! تاسو د خپلې شهزادګۍ نکاح زما سره وکړئ ځکه چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا اوريدلي دي چې سبا به د قيامت په ورځ هر نَسب او رشته ختمه شي علاوه زما د نسب او زما د رشتے نه-" نو د دې فضيلت موندلو د پاره سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د شهزادګۍ بي بي اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللهُ عَنْها سره نکاح وکړله او په حق مهر کښې يې 40,000 درهمه ورکړل- (مجمع الزوائد، 398/8، حديث:13827- الحديث المختاره، 198/1، حديث: 102- الاستيعاب، 509/4، الاصابۃ فی تمييز الصحابۃ، 465/8، فيضانِ فارقِ اعظم، 79/1)

**اے د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو عاشقانو!** د صحابۀ کرامو عَليهمُ الرِّضوَان او د اهلِ بيتِ اطهار رَضِیَ اللهُ عَنْهُم په خپل مينځ کښې ډير مَحَبَّت او خانداني رشتے وې الله پاک دې زمونږه هم د هغوئي برکتونه نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم


د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي ټولو باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

صحابہ اور اہلِ بیت کی دل میں مَحَبَّت ہے　　بفیضانِ رضا میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا

(وسائل بخشش، ص 526)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# د راتلونکې اونۍ مجله





978-969-722-689-4
01082508



فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net